مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې لومړۍ | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۱مه | دویم کال | ۳۲۱مه ګڼه

## هېواد

۴ مخ

### کانګو

د دغه هېواد ۳۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات یې هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.




# اوولس ټاکنیز ټیمونه په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې سیالي کوي




۳

### راتلونکې ټاکنې او د ناوړه برخلیک یو تصویر

۲ مخ


### د افغان سولې بُن بست او پر طالبانو سیمه ییز فشارونه

۲ مخ

### په افغان سوله کې سیمه ییزې موخې

۳ مخ

## رستمي: په پنځو ولایتونو کې د پستې ۱۲۰ هکټاره ځنګلونه رغول شوي دي



د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، په روان کال کې یې د پستې ۱۲۰ هکټاره ځنګلونه رغولي دي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته ویلي چې په یاده اندازه ځمکه کې کښت شوی او له ۶۰ تر ۸۰ زرو پورې د پستې ونې به په کې وده وکړي.

د نوموړي په خبره، دا ځنګلونه په هرات، بادغیس، تخار، سمنګان او بدخشان ولایتونو کې د ۲۴ وړو عایداتي پروژو له لارې ۲۴ کورنیو ته رغول شوي دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، تر راتلونکو لسو کلونو پورې به له دغو ځنګلونو څخه ۲۱۰ متریکه ټنه پسته تر لاسه شي.

د سرچینې په خبره، په کلني ډول په افغانستان کې ۳۰ زره متریک ټنه پسته د خلکو له خوا راټولېږي چې له ۱۰۰۰ ټنو زیاته یې نورو هېوادونو ته صادرېږي.

## پښتانه مشران: حکومتونه دې په تذکرو د تګ راتګ اجازه راکړي

د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته مېشت پښتانه د پاسپورټ ختمېدل غواړي. د ننګرهار په تورخم سرحدي ښارګوټي کې پرون د کرښې له دواړو خواوو د پښتون قوم مشران را ټول شوي وو او له کابل او اسلام اباد یې غوښتنه وکړه چې پر ډیورنډ کرښه دې د پښتنو لپاره د تګ راتګ پرمهال پاسپورټ ختم شي او دغه قوم ته دې په تذکره او شناختي کارډ د تګ راتګ اجازه ورکړل شي.


دوی ویلي، دواړو خواوو ته پراته خلک دوستۍ او د خپلوۍ رشتې لري او دغه فرضي کرښه یې سره نه شي بېلولی.

دغو پښتنو مشرانو ویلي، د کابل او اسلام اباد ترمنځ د اړیکو خرابوالي او په ډیورنډ کرښه پر پاسپورټ تګ راتګ نه یوازې دا چې دا یو قوم سره وېشلی، بلکې پر سوداګرۍ یې هم بده اغېزه کړې او دواړو خواوو ته یې زرګونه کسان د بېکارۍ له ستونزې سره مخ کړي دي.

چارواکي هم وايي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو ترینګلتیا، د دغو هېوادونو ترمنځ سوداګري له رکود سره مخ کړې ده.


په تورخم کې د اصنافو رییس ویلي، دوی کوښښ کوي چې دواړو خواوو ته پراته پښتانه له پاسپورټ پرته په تذکرو او شناختي کارډونو تګ او راتګ وکړای شي.  په دې غونډه کې دې دواړو خواوو مشرانو ژمنې وکړې چې د خپل قوم ستونزې به د حل په موخه له خپلو حکومتونو سره شریکوي او د نه حل کېدو په صورت کې به پر مدني حرکتونو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ ټرانزیټي لارې وتړي.

## چمتو یم چې د سولې په اړه د افغانانو مشروع اندېښنو ته ځواب ووایم



۲ مخ

## صدها تن از اثر برف‌های سنگین در شاهراه بامیان- دایکندی گیر مانده اند



مقام‌های محلی ولایات دایکندی و بامیان می‌گویند که بارش برف‌های سنگین و توفانی بودن هوا در این دو ولایت؛ مسیرهای مواصلاتی ولسوالی‌ها را با مراکز این دو ولایت و کابل مسدود کرده است.

بسته‌شدن مسیرهای مواصلاتی سبب شده است که صدها مسافر به شمول زنان و کودکان، در ساحات مختلف کوتل‌های قاناق و شاتو در ساحات بامیان و دایکندی گیر کنند.

توفانی بودن هوا و شدت بارش برف جریان پاک‌کاری این مسیرها را نیز متوقف ساخته است و مقام‌ها از مسافرین می‌خواهند که تا توقف توفان و بازشدن مسیرهای مواصلاتی از مسافرت جلوگیری کنند. ریاست فواید عامه ولایت دایکندی گفته است که در حال حاضر هوا در کوتل قوناق که این ولایت را با بامیان وصل می‌سازد، توفانی بوده و ده‌ها موتر مسافربری در این کوتل گیر مانده اند.

خداداد سیرت، رئیس فواید عامهٔ دایکندی به رادیو آشنا_ صدای امریکا گفته است که به جز مسیر ولسوالی شهرستان- نیلی مرکز دایکندی، تمام مسیرهای این ولایت از اثر بارش برف به روی ترافیک بسته است.

آقای سیرت افزوده است: «هوا توفانی است امکان پاک‌کاری در مسیرهای دایکندی وجود ندارد و در ساحهٔ کوتل قوناق در قسمت بامیان ده موتر فلانکوچ گیرمانده اند و مسافرین شان در یک هوتل جابجا شده و همچنان شماری از موترها در ساحهٔ دایکندی گیرمانده اند و مسافرین در یک هوتل جابجا شده اند.»

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

دریځ

## راتلونکې ټاکنې او د ناوړه برخلیک یو تصویر

د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د کاندیدانو د نوملیکنې لړۍ پرون بشپړه شوه او ۱۷ کسانو ځانونه ولسمشرۍ ته کاندید کړي دي. دا شمېر د پخوا خلاف کم دی او ویل کېږي چې ځينې به يې په اسنادو کې د ستونزو له امله له لېسته و ايستل شي او ځينې به يې د نورو په گټه له کانديدۍ تېر شي. په دې ډول د کانديدانو شمېر نور هم را کمېږي، خو د راتلونکو ټاکنو په تړاو جدي اندېښنې لا پر ځای دي.

د افغانستان حالاتو او کاندیدانو ته په کتو سره به راتلونکې ټاکنې څه ډول وي؟

د راتلونکو ټاکنو پر وړاندې لومړۍ ستونزه د امنيت ده. همدا اوس نيمايي افغانستان د طالبانو تر کنټرول لاندې دی او په نيم نور کې هم بريدونه کوي او گواښونه رامنځ ته کولی شي. له همدې امله دا ټاکنې په نيم افغانستان کې ټاکنې دي. داسې وېره ده چې که د سولې خبرې بريالۍ نه شي، نو امنيتي حالت تر دې هم خرابېدلی شي.

دويمه ستونزه دا ده چې سر له اوسه ټاکنيز ټيمونه قانون تر پښو لاندې کوي او د درغلۍ لپاره تياری نيسي. ولسمشر او ملاتړي يې همدا اوس دولتي امکانات، وخت او ځواک کاروي. اجرايه رييس هم په همدې کټه گورۍ کې دی. دوی پرون په دولتي موټرونو او رسمي وخت کې نوملیکنې ته ولاړل. د دوی لپاره په ټولنيزو رسنيو کې همدا اوس دولتي کسان کمپاين کوي او ان د ولسمشر وياند د دې پر ځای چې د حکومت وياند وي، سر له اوسه د ټاکنيز ټيم وياندويي کوي. همداسې اجرايه رييس هم د قانون خلاف استعفا نه ورکوي، خو ځان يې کانديد کړی دی. د حنيف اتمر دويم مرستيال محمدمحقق هم له استعفا پرته د کانديد مرستيال دی چې ښکاره د قانون نقض دی. په ټاکنو کې د حکومتي امکاناتو کارول ښکاره دي، ملي ټلوېزيون پرون د عبدالله او اشرف غني ټاکنيزې ويناوې په ژوندۍ بڼه خپرې کړې، خو د نورو کانديدانو يې خپرې نه کړې. له بله اړخه ولسمشر چې اوس کانديد دی، له سياسيونو سره همدا اوس پر حکومتي امکاناتو معامله کوي. امرالله صالح يې کورنيو چارو وزارت ته راوست او هلته يې دولتي امکانات د ده د کمپاين لپاره وکارول. ولسشمر ان په دې وروستيو کې ځينې کسان خپل ټاکنيز ټيم ته ور گډ کړي، خو معاش له دولتي امکانات ورکوي چې ښکاره بېلگه يې تازه گومارل شوي مشاورين دي چې اصلي کار يې ټاکنيز کمپاين دی، خو امکانات او پيسې دولت ورکوي.

له اوسني حالته ښکاري چې ټاکنې به په نيم افغانستان کې وي او دا به هم له درغليو، ناقانونيو او حکومتي لاسوهنو ډکې وي. له همدې امله سر له اوسه ښکاري چې موږ به يو ځل بيا تر پخوا بدې ټاکنې ولرو. د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنې له درغليو ډکې وې، خو د ۲۰۱۸ ز کال پارلماني ټاکنې مو لا بدې شوې او راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې به تر دې هم له درغليو ډکې، ناقانونه او جنجالي وي چې هېواد به له نوو ستونزو سره مخ کړي.

ټاکنې به مجبوريت وي، خو زموږ د هر رښتيني افغان او پر خلکو مين سياستوال اصلي دنده بايد د سولې لپاره هلې ځلې وي. موږ بايد مخکې له دې سوله راولو چې د راتلونکو ټاکنو د زهرو جام وڅښو، خو که خدای مه کړه، سوله را نه غله، له شک پرته د زهرو د دغه جام له څښلو وروسته به نه يوازې سوله سخته شوې وي، بلکې زموږ وجود به لا زيات خراب شوی وي.

# د افغان سولې بُن بست او پر طالبانو سیمه ییز فشارونه

لیکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسولو په موخه له تېرو څو مياشتو راهيسې د امريکا په مشرۍ هلې ځلې روانې دي. په دې موده کې د طالبانو او امريکا ترمنځ درې ځله مخامخ خبرې وشوې؛ خو دا خبرې د ابوظبۍ له ناستې را وروسته ځنډېدلې او داسې ښکاري چې پر وړاندې يې ځينې خنډونه پيدا شوې دي.

د ابوظبۍ له ناستې وروسته په لومړيو کې ويل کېدل چې ښايي دواړه لوري په سعودي عربستان کې سره کېني، خو وروسته د ناستې ځای قطر هېواد وټاکل شو، چې ظاهراً پر اجنډا د اختلاف له کبله په قطر کې هم دغه ناسته ونه شوه. د دې ناستې د لغوه کېدو په اړه انگېرنې دا دي چې د افغان سولې په اړه روانې خبرې د ځينو هېوادونو ترمنځ د خپلمنځي اختلافونو له کبله ځنډېدلې دي او د سيمې ځينې هېوادونو ته د افغانستان د ملي امنيت سلاکار حمدالله محب او د افغان سولې لپاره د امريکا د ځانگړي استازي زلمي خليلزاد وروستي سفرونه هم په همدې موخه پيل شوي دي، څو رامنځته شوي خنډونه له منځه يوسي.

دا چې د افغان سولې په اړه د امريکا-طالبانو خبرې ولې ځنډېدلې دي او د دې خبرو د بيا پيل په موخه به پر طالبانو د سيمې د هېوادونو فشارونه څه اغېز ولري؟ هغه پوښتنه ده چې دلته يې په اړه بحث شوی دی.

**د سولې خبرې ولې وځنډېدې؟**

د امريکا- طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو له پيل سره په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسېدو په اړه نوې هيلې را وټوکېدې. د دغو خبرو دوام او درې ځله د امريکا او طالب استازو ترمنځ مخامخ خبرې، د پاکستان له زندانونو څخه د طالب مشرانو خوشې کېدل، د سولې په خبرو کې د طالبانو د نظامي چارواکو په ځانگړې توگه د حقاني شبکې د غړو گډون، ټول هغه موارد وو چې په افغانستان کې يې د روانې جگړې د پای ته رسېدو په اړه د روانو خبرو پايلو ته خلک خوښ کړي وو.

د افغان سولې په اړه د امريکا- طالبانو د مخامخ خبرو په لړ کې له دريو ناستو را وروسته څلورمه ناسته چې ټاکل شوې وه په قطر کې وشي، وځنډېده او ظاهراً د دې ځنډ لامل د دواړو لورو ترمنځ د غونډې د اجنډا پر سر اختلاف بلل کېږي، خو له دې پرته ځينې نور لاملونه هم شته چې کېدای شي د خبرو په ځنډ کې رول ولري:

**لومړی:** له افغانستانه د امريکايانو وتل د سولې په خبرو کې له لومړي سره د طالبانو له لوري تر ټولو ستر شرط و. په وروستيو خبرو کې هم د طالبانو له لوري له افغانستانه د امريکايانو پر وتلو ټينگار شوی دی، خو انگېرنې دا دي چې امريکا نه غواړي له افغانستانه خپل ځان ټول کړي، بلکې غواړي چې کمه اندازه سرتېري په دغه سيمه کې ولري. له همدې کبله په روانو خبرو کې تر ډېره هڅه کوي چې طالبان په يو ډول له دوی سره په افغانستان کې يوه يا دوې نظامي اډې ومني.

**دويم:** په روانو خبرو کې يو بل ستر خنډ چې کولای شو د سولې د خبرو د ځنډ لامل يې وگڼو، له افغان دولت سره د طالبانو نه خبرې کول دي. افغان حکومت هڅه کوي چې له طالبانو سره مخامخ د سولې خبرې وکړي، خو طالبانو تل له افغان دولت سره د سولې خبرې رد کړې دي. په دې اړه د امريکا او خپله د افغان دولت هڅې دا دي چې پر طالبانو د نورو هېوادونو په واسطه فشارونه راوړي، څو له افغان دولت سره خبرو ته کېني.

**درېيم:** د سولې د روانو خبرو د ځنډ په اړه يو بل لامل بيا خپله طالبانو ته ورگرځي او هغه د دې ډلې ځينې محدوديتونه دي. د بېلگې په توگه، د سعودي عربستان او قطر ترمنځ شته مخالفت، د طالبانو پر وړاندې يو محدوديت گڼل کېږي او دا هغه څه گڼلی شو چې طالبان يې په روانو خبرو کې د تصميم نيونې په برخه کې له ستونزو سره مخ کړي دي. په روانو خبرو کې طالبان اړ دي، څو د هغو ټولو اړخونو مشورې او غوښتنې په پام کې ونيسي چې له دوی سره يې په تېرو ۱۸ کلونو کې په يو ډول نه، يو ډول اړيکې درلودې او همکاري يې ورسره کړې ده.

**پر طالبانو سيمه ييز فشارونه**

د افغان سولې په اړه د روانو خبرو له ځنډېدو سره يو ځل بيا افغان حکومت او د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد، د سيمې ځينو هغو هېوادونو ته سفرونه پيل کړي چې ښکاري په سيمه کې هم رول لري او هم په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسېدو په برخه کې همکاري کولی شي.

زلمي خليلزاد د خپل ماموريت د څلورم سفر په لړ کې د افغانستان په گډون چين، هند او پاکستان ته سفرونه وکړل. همدارنگه د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار حمدالله محب هم چين، هند او سعودي عربستان ته ولاړ. دوی دواړو تر ډېره يوه موخه تعقيبوله او هغه دا چې په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسېدو په برخه کې د دغو هېوادونو همکاري جلب او له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د طالبانو د حاضرېدو په اړه هلې ځلې وکړي.

چين د سيمې هغه هېواد دی چې په نورو هېوادونو کې د لاسوهنې او له نورو هېوادونو سره د شخړو سياست پرمخ نه وړي، بلکې د اقتصادي سياستونو له لارې غواړي خپل ځواک پراخ کړي. دغه هېواد د سيمې په کچه د کابل-اسلام‌آباد اړيکو په رغولو او افغان سولې پروسه کې مرسته کولای شي؛ ځکه چين د خپلو اوږدمهالو گټو لپاره يو با ثباته افغانستان غواړي. سعودي عربستان له يوې خوا په اسلامي نړۍ کې لوړ مقام لري او له بلې خوا بيا هغه هېواد دی چې په وروستيو کې يې پاکستان ته د ميلياردونو ډالرو د ورکړې اعلان کړی او کولای شي چې د پاکستان له لارې پر طالبانو له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د کېناستلو په موخه فشار راوړي.

پاکستان تر بل هر هېواد پر طالبانو زياد نفوذ لري او داسې ويل کېږي چې د طالبانو تر ټولو ډېر پټنځايونه په دغه هېواد کې دي. له همدې کبله د افغان سولې په اړه تل پاکستان ته تمه کېږي. د افغان سولې په اړه له ډېرې مودې پر پاکستان د امريکا فشارونه دي او داسې ښکاري چې پاکستان د دغو فشارونو له کبله پر طالبانو کار هم پيل کړی دی؛ ځکه تېره اونۍ داسې راپورونه خپاره شول چې پاکستاني پوځيانو په خيبر پښتونخوا کې يو لوړ پوړی طالب چارواکی نيولی و، خو له څو ساعتونو وروسته يې بېرته خوشې کړ.

**سيمه ييز فشارونه به طالبان سولې ته اړ کړي؟**

د امريکا او افغان دولت له لوري پر طالبانو د فشارونو په لړ کې تېره اونۍ دې ډلې د يوې اعلاميې په خپرولو سره گواښ وکړ چې که امريکا په افغانستان کې د سولې په تړاو خپله تگلاره سمه نه کړي او بېرته هغې اجنډا ته را ونه گرځي چې د دواړو لورو ترمنځ يې په اړه هوکړه شوې وه، طالبان به له امريکايانو سره د سولې هر ډول خبرې وځنډوي.

طالبانو ويلي چې امريکايانو د ۲۰۱۸ ز کال د نومبر په ناسته کې موافقه کړې وه چې په راتلونکې غونډه کې به له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو په وتلو او د نورو هېوادونو پر خلاف د افغانستان د خاورې د نه استعمالولو پر موضوع خبرې کوو، خو اوسمهال دوی له هغې اجنډا څخه ډډه کوي او په خپله خوښه نوي موضوعات پکې ځايوي.

همدارنگه په دغه اعلاميه کې ويل شوي چې: «که امريکايان غواړي په ښه نيت مذاکراتو ته راشي او د افغانستان د مسلمان ولس مشروع غوښتنې ومني، په داسې کولو سره مسئله حل کېدای شي، خو که د افغانانو د مشروع غوښتنو له منلو تېښته کوي او په يوه او بله پلمه، د سولې تر نوم لاندې خپل استعمال او نظامي اهداف له سياسي لارو تعقيبوي يا د نورو هېوادونو د تطميع له لارې ناروا فشارونه اچوي، دا معنا لري چې د افغانستان د مسئلې په سوله ييز حل کې دلچسپي نه لري».

د طالبانو له دې اعلاميې داسې ښکاري چې د افغان سولې په اړه د امريکا-طالبانو ترمنځ د خبرو په پروسه کې پر طالبانو د سيمه ييزو فشارونو له زياتوالي سره د سولې دغه نوې پروسه له گواښ سره مخ شوې ده.

تېره اونۍ رويټرز خبري آژانس ويلي وو چې د افغان سولې د خبرو د ځای پر سر اختلاف د سولې د خبرو په ځنډ کې يو مهم فکتور دی او دا اختلاف د سيمې د ځينو هېوادونو د خپلمنځي لانجو له کبله رامنځته شوی دی. د رويټرز په حواله چې سعودي عربستان او متحد عربي امارات نه غواړي د سولې خبرې په قطر کې وشي، خو بلخوا بيا ايران په عربستان او متحده عربي اماراتو کې د سولې له خبرو سره مخالفت کوي.

له دې داسې برېښي چې د سولې د پروسې بيا پيل لپاره د ښکېلو هېوادونو ځپلمنځي اړيکې هغه مهم فکتور دی چې کولای شي دا پروسه هم بريا ته ورسوي او هم يې ناکامه کړي. په داسې وضعيت کې افغان حکومت او امريکا ته لازمه ده چې د سولې روانه پروسه د سيمې د هېوادونو خپلمنځي اړيکو د مخالفتونو له سيوري لرې وساتي او هڅه وکړي چې د دې پروسې د بيا پيل او بريا په موخه يوه رښتينې سيمه ييزه اجماع رامنځته کړي.

## خليلزاد: چمتو یم چې د سولې په اړه د افغانانو مشروع اندېښنو ته ځواب ووايم

د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد ويلي، سولې ته د رسېدو لپاره چمتو دی چې د ټولو افغانانو مشروع اندېښنو ته د قانون په رڼا کې ځواب ووايي.

خليلزاد چې په اسلام اباد کې له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې په تړاو پر خبرو بوخت دی، دغه څرگندونې يې ورمه شپه په ټوېټر کې کړې دي.

نوموړي زياته کړې، غواړي چې دغه اندېښنې له يوې داسې لارې ځواب کړي چې د افغانستان خپلواکي او حاکميت تضمين او د سيمې هېوادونو د مشروع گټو ځواب ويونکې وي.

د نوموړي په خبره، جگړه بايد سمدستي پای ته ورسېږي، خو د سولې لټون لا هم په دې معنا دی چې له اړتيا سره سم بايد جگړه وکړي.

خليلزاد ويلي، ډېری کسان اندېښنه لري چې امريکا هم سوله او هم جنگ غواړي، خو د نوموړي په خبره، امريکا سوله غواړي.

نوموړي له تېرو څو ورځو راهيسې د پاکستان له لومړي وزير عمران خان، د بهرنيو چارو له وزير شاه محمود قريشي او د پوځ له مشر جنرال باجوه سره پر افغان سوله خبرې کړې دي.

د يادونې ده چې خليلزاد د افغان سولې په تړاو د سيمې هېوادونو ته په درېيم سفر وتلی دی. نوموړي تر دې وړاندې هند، چين او افغانستان ته هم سفرونه وکړل.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې د افغان کشالې د حل لپاره په سيمه ييزه او نړيواله کچه، هڅو زور اخيستی چې په دې تړاو د خليلزاد په سفرونو سربېره، د طالبانو استازو هم ايران او د سيمې نورو هېوادونو ته سفرونه کړي دي.

## پاکستاني رسنۍ: لينډسي گراهام له پاکستاني چارواکو سره پر افغان سوله غږېدلی

امريکايي مخکښ سناتور لينډسي گراهام په اسلام اباد کې د پاکستان د بهرنيو چارو له وزير شاه محمود قريشي سره د نورو مسايلو ترڅنگ، پر افغان سوله خبرې کړې دي.

پاکستاني رسنيو د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزارت د وياند محمد فيصل له قوله ويلي چې دواړو مشرانو په دې کتنه کې د دوه اړخيزو او سيمه ييزو مسايلو ترڅنگ، د افغانستان د سولې او پخلاينې په اړه هم خبرې کړې دي.

گراهام د امريکا د سنا د قضايي کمېټې مشر او د دې جرگې د پوځي خدماتو او بودجې د کمېټو مخکښ غړی دی.

په دې اړه نور جزيات نه دي خپاره شوي، خو تر دې يوه ورځ وړاندې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير قريشي ويلي وو چې پاکستان هڅه کوي، څو د امريکايي پلاوي او طالب استازو ترمنځ د خبرو بل پړاو کوربه توب وکړي.

د دغه هېواد رسنيو ويلي چې د پاکستان د لومړي وزير عمران خان او د پوځ د لوی درستيز جنرال قمر جاويد باجوه په گډون، له لوړپوړو چارواکو سره د خليلزاد په ليدو کتو کې د دې غونډې مسئله مطرح شوې ده.

خو طالب وياند ذبيح الله مجاهد ويلي، دوی دا روښانه کړې چې د افغان سولې او پخلاينې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له ځانگړي استازي زلمي خليلزاد سره به په اسلام اباد کې ونه گوري.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې داسې راپورونه خپاره شول چې خليلزاد په اسلام اباد کې له طالب استازو سره مخامخ خبرې کړې دي چې بيا وروسته وسله والو طالبانو د يوې اعلاميې په خپرولو سره دغه راپورونه رد کړل.

# په افغان سوله کې سیمه ییزې موخې

لیکنه: سیدخالد سادات

د سولې روانې هڅې د ذیدخلو لورو له خوا له بندښت سره مخ کېږي. طالبانو ته ورکړل شوی ماموریت ورځ تر بلې پېچلی کېږي. طالبان کوښښ کوي چې په ورکړل شوي ماموریت کې له امریکا سره ډغرې ووهي او خپل ځان د یو قوي قدرت په توګه تعریف کړي چې بالاخره له امریکا سره یې خبرې په ټپه دربدلې دي. له بل لوري امریکا په افغانستان کې د خپل نظامي حضور په لټه کې ده چې د طالبانو په شتون کې ځنګه کولای شي، څو په افغانستان کې محدود شمېر عسکر وساتلی شي. دا باید ومنو چې طالبان اوس له یوې جګړه ییزې کتلې څخه د سیاسي کتلې پر لور حرکت کوي، خو د نړیوالو حقوقو له اړخه وار له مخه د دولتي تعاملاتو تحقق پر طالبانو نه شي اطلاق کېدای. معنا دا چې اوس یوازې د جګړې ختمول او له نظامي بعد څخه سیاسي بعد ته د طالبانو د کتلې انتقالول مهم دي. دولتي تعاملات د امریکا او له نورو هېوادونو سره د افغانستان ګډ نظام تر چتر لاندې صورت نیولی شي چې طالبان باید د نظام برخه وګرځي او ترسره یې کړي. له بل لوري طالبان په مذاکراتو کې د خپل امتیاز بېلانس د جګړې پر شدت حسابوي، طالبان فکر کوي چې که هر څومره جګړه قوي شي، دوی ډېر امتیاز ترلاسه کولای شي، په داسې حال کې چې د سولې او جګړې له منظره د طالبانو د جګړو شدت خپله د سولې نقض او خنډ دی. اوسمهال د سولې روانه سیمه مانوره او ماموریت یو حد ته رسېدلی چې باید منسجم او منظم شي.

د سیمې هېوادونه په ښکاره له امریکا سره د دښمنۍ او قدرت تظاهر ته غاړه نه ږدي. روسیه د مرکزي اسیا د امنیت ټېنګښت او بالاخره د روسیې ملي امنیت ته د افغان خاورې ګواښ او تهدیدونه محور کول غواړي. چین په اوږدمهال کې د اقتصادي پرمختګ په فکر کې دی او د افغانستان په جګړه کې خپلې ګټې لکه د سیپېک، لاجوردو لار، یو کمربند یوه لار، وربښمو لار او نورو هغو ډېرو اقتصادي پروژو ته سترګې په لار دی چې باید په سیمه کې د چین تر مشرۍ لاندې پلې شي.

د افغانستان د سولې مسئله بې له شکه د چین لپاره د اقتصادي او حیاتي مسئلې معنا لري. د سیمې دوه مهم هېوادونه ایران او پاکستان مختلفې او متضادې غوښتنې لري چې د افغان سولې په چوکاټ کې یې غواړي. دلته باید په زغرده د پاکستان او ایران له اهدافو سره له ملي زاویې بحث وشي. که د سولې په چوکاټ کې افغان دولت د پاکستان او ایران له اغېزې نه خلاصېږي، بیا هم د دایمي سولې تعریفول ستونزمن بریښي. که طالبان د پاکستان په اشاره او غوښتنه له امریکایانو او روسانو سره ګډ تفاهم ته رسېږي، څو د افغانستان نظام د(Pro Pakistan State) یا د پاکستان حمایوي دولت بڼې ته واړوي، باید پوه شو چې په اوږدمهال کې به د پاکستان د ګټو لپاره استعمالېږو او دایمي سولې ته رسېدنه خورا ستونزمنه ښکاري. د افغانستان په مسئله کې پاکستان پر اټومي قدرت او د سیمې پر یو نظامي لوبغاړي بدل شوی دی. پاکستان د شوروي اتحاد له یرغله نیولې تر اوسه د افغانستان مسئلې ته د خپلو اقتصادي ګټو له نظره ګوري. په افغان ـ شوروي جګړه کې پاکستان نه یوازې د غربي هېوادونو، بلکې د مسلمانو او کمونیستي هېوادونو ملاتړ هم ترلاسه کړ. له جګړې وروسته یې د مجاهدینو مکمل کنټرول په لاس کې واخیست او د کورنۍ جګړې تېل یې په افغانستان کې وپاشل. نصیرالله بابر مجاهدین د افغانستان له دولت سره چې د ډاکټر نجیب‌الله تر مشرۍ لاندې فعال و، له هر راز مذاکراتو او خبرو څخه منعه کول. د ملي پخلاینې پروسه د ډاکټر نجیب له خوا مجاهدینو ته وړاندې شوه، خو مجاهدینو هر راز مصالحه او بین الافغاني مفاهېمه ردوله او ټینګار یې دا و چې مجاهدین کابل ته په فاتحانه ډول ننوځي. هماغه وو چې له فاتحانه ننوتو سره سل کلنه اردو له منځه ولاړه، افغانستان لوټ شو، یوازې اویا زره کابلیان په کابل کې د اسلامي تنظیمونو په جګړو کې شهیدان شول او پاکستان افغانستان ته د خپلې پنځمې صوبې بڼه ورکړه.

سناریو بیا په تکرارېدو ده، طالبان د مجاهدینو په پخواني پله روان دي، د کابل حکومت له ټولو معاېبو سره سره طالبانو ته په ۲۰۱۸ ز کال کې د کابل پروسې دویم کنفرانس کې د سولې بشپړ پکېج وړاندې کړ. طالبانو ته د سیاسي حزب او سیاسي فعالیت امتیاز وړاندې شو، د طالب بندیانو خوشې کول او طالب مشران له تور لېست څخه ایستل افغان دولت په خپلو لومړیتوبونو کې راوستل. افغان دولت د مستقیمو مذاکراتو لپاره حتی یو دولتي مذاکراتي ټیم هم وټاکه، څو د طالبانو او افغان دولت ترمنځ مستقیم مذاکرات وشي. اما له دې ټولو چانسونو او فرصتونو سره سره طالبان لکه د مجاهدینو په څېر کابل ته په فاتحانه ډول ننوتل غواړي. له ورایه برېښي چې پاکستان طالبان د امریکا او نړۍ له لویو قدرتونو سره د بهرني سیاست د سیاسي دستګاه په توګه لوبوي. د هند ـ پاکستان خصومت او دښمني؛ پاکستان غواړي د طالب له وجود نه په ګټې اخیستنې پای ته ورسوي او له امریکا تضمین واخلي. په افغانستان کې ستراتېژیک عمق ته رسېدنه د پاکستان لوی ارمان دی او د اوسنیو مذاکراتو په چوکاټ کې یې د طالبانو له حضور نه په ګټې اخیستنې غواړي ورته ورسېږي.

پر ډیورنډ کرښه باندې د اغزن تار تېرول بله معنا نه لري، څو پاکستان په افغانستان کې اور دومره ګرم کړي چې افغان ملت د خپل وجود برخې پرېکولو ته مجبور کړي. پاکستان د افغانستان روانې جګړې ته د سرمایې په سترګه ګوري، د اوبو پر سر مسئله د پاکستان لپاره حیاتي ارزښت لري، څو یې د ځان په ګټه وڅرخوي او روانه جګړه ده چې پاکستان دغه هدف ته نږدې کوي. په پایله کې ویلای شو هومره چې د طالبانو او افغان دولت ترمنځ مستقیم مذاکرات شا ته لوېږي، په هماغه اندازه د سولې دروازه د افغانانو پر وړاندې تړل کېږي. د سیمې هېوادونه متفاوت تعریفونه چې افغان سولې ته یې لري، ستر خنډ بلل کېږي، څو چې ګاونډیان او سیمه ییز هېوادونه د سولې لپاره واحد شکل پیدا نه کړي، بشپړ بین الافغاني مذاکراتو پیل کېدای نه شي او ترڅو چې د ګاونډیو هېوادونو اهداف روښانه نه شي، ممکنه نه ده چې روانه جګړه ختمه شي.

# اوولس ټاکنیز ټیمونه په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې سیالي کوي




تېره ورځ د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د نوماندانو د نوملیکنې پروسه رسماً پای ته ورسېده. دې پروسې ته نږدې یوه میاشت وخت ورکړل شوی و او پرون د ۱۷ نوماندانو په نوملیکنې سره پای ته ورسېده. د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو ویناوې وکړې، خو تر ډېره د ټولو ټینګار په راتلونکو ټاکنو کې پر شفافیت او اصلاحاتو و.

ولسمشر اشرف غني او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم له خپلو ټیمونو سره د نوملیکنې لپاره لاړ او ځانونه یې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند کړل. ولسمشر غني تر نوملیکنې مخکې خبري کنفرانس ته د خبرو پر مهال وویل، چې دوی حکومت جوړونې ته ژمن دي او د اصلاحاتو او ښې حکومتولۍ ناتمام فصل به بشپړوي. هغه په زغرده وویل چې په راتلونکو ټاکنو کې به خپل سیال ټیمونه ماتوي او د خپلو ناتمامو برنامو د بشپړولو لپاره د ولس رایه خپلوي.

ولسمشر غني د خپلو خبرو پر دوام د موقت حکومت طرحه هم ناکامه وبلله او په خبره یې دغه طرحه چې هر څوک وړاندې کوي، د افغانستان په ګټه نه ده او دوی به یې په کلکه مخالفت وکړي.

د هغه لومړي مرستیال امرالله صالح هم ټینګار وکړ چې د واحد افغانستان د جوړولو او ښې حکومتولۍ د رامنځ ته کولو لپاره یې سیالۍ ته دانګلي دي او د افغانستان قوانینو ته ژمن دي.

بل پلو ډاکټر عبدالله عبدالله چې د جمعیت ګوند نوماند دی، په خپلو خبرو کې وویل، اجرایه ریاست به پر خپل ځای وي او د دغه ریاست لپاره به رییس او دوه مرستیالان ټاکل کېږي. ولسمشر غني بیا ویلي چې دده په حکومت کې اجرایه ریاست ځای نه لري او دغه اداره له منځه وړي. عبدالله عبدالله ویلي چې د ټاکنیزو سیالیو پر مهال به هم خپلې دندې ته ادامه ورکوي او د اجرایه ریاست له څوکۍ نه لرې کېږي.

ټولو نوماندانو سولې ته ځان ژمن وباله او ټینګار یې وکړ چې سوله به یې د کارونو لومړیتوب وي. ولسمشر غني وویل، طالبان باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي او په وینا یې لا هم وخت ډېر دی او دغه ډلې ته پکار ده چې د پاکستان پر ځای له افغان حکومت سره د سولې مذاکرات پیل کړي. دده په خبره، که طالبان خپل کارونه د پاکستان په خوښه مخ ته وړي، نو افغان حکومت به هم د طالبانو پر ځای له پاکستان سره خبرې پیل کړي چې په دغه وضعیت کې به طالبان زیانمن شي.

اجرایه رییس هم وویل چې دوی په افغانستان کې د سولې پلویان دي، خو داسې سوله غواړي چې د افغانستان په ګټه وي او په هېواد کې د تلپاتې ثبات سبب شي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې ټولټال ۱۷ کسانو له دوی سره نوملیکنه وکړه او د نهایي لېست تر خپرېدو وروسته به په نهایي لېست کې پاتې کسان د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره سره سیالي کوي. په دې ډله کې محمد اشرف غني، عبدالله عبدالله، حنیف اتمر، احمد ولي مسعود، شیدا محمد ابدالي، فرامرز تمنا، عبدالطیف پدرام، ګلبدین حکمتیار، رحمت الله نبیل، زلمی رسول، نور الحق علومي، شهاب حکیمي، حکیم تورسن، عنایت الله حفیظ، نورحمان لېوال، ابراهیم الکوزی او نورالحق جلیلي شامل دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې راتلونکې ولسمشریز ټاکنې به د ۱۳۹۸ لمریز کال په سرطان کې ترسره کېږي. له دغه کمېسیونه تر ۷۰ پورې کسانو معلوماتي بستې اخیستې وې، خو یوازې ۱۷ کسان به د راتلونکي کال په سرطان میاشت کې سیالي کوي.

# ملګري ملتونه: اروپا ته تلونکي ۱۷۰ کډوال په مدیترانې سمندرګي کې ډوب شوي دي

ملګري ملتونه وایي، هغه ۱۷۰ تنه کډوال په دوو جلا پېښو کې په اوبو کې ډوب شوي چې د مدیترانې سمندر له لارې یې اروپا ته د تلو هڅه کوله.

د راپورونو له مخې، یوه ربړي بېړۍ چې ۱۲۰ کسان پکې سپاره وو، د لیبیا په ساحلي اوبو کې ډوبه شوې ده او بله هغه چې ۵۰ کسان یې لېږدول، د اسپانیا او مراکش ترمنځ په سمندري اوبو کې ډوبه شوې ده چې په دواړو کې ډېری سپاره کډوال وژل شوي دي.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو اداري یا (UNHCR) په مدیترانې سمندرګي کې د یاد شمېر کسانو پر ډوبېدو خواشیني ښودلې او د دې ادارې مشرې په مدیترانې سمندرګي کې د کډوالو د دغه ناورین دې پای ته رسولو سپارښتنه کړې ده.

بلخوا د کډوالو په برخه کې فعالو نادولتي بنسټونو د کډوالو له دې ډلې د ۵۳ کسانو مړینه تایید کړې ده.

رپوټونه وایي، له دې ډلې یو کډوال چې له څلورویشت ساعتونو یې زیات وخت په سمندر کې تېر کړی و، په ناڅاپي ډول د مراکشي کب نیوونکو له بېړۍ سره مخ شوی او ژغورل شوی دی.

ایټالوي چارواکو هم د یوې بلې بېړۍ د ډوبېدو خبر ورکړی، د دغه هېواد سمندري ژغورونکو یوازې درې تنه ژغورلي دي او چارواکي ویلي چې دغه ډوبه شوې بېړۍ له لیبیا د اروپا پر لور روانه وه.

د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو ادارې ویاندې، لیز تروسیل بي بي سي ته ویلي، باید پرې نه ښودل شي چې دا ناورین نور هم دوام وکړي. نوموړې زیاته کړې: «پکار ده چې له دې لارې د کډوالو د تګ د مخنیوي لپاره پراخې هڅې وشي او پکار ده چې اروپا ته د کډوالۍ لپاره قانوني او خوندي لارې وموندل شي».

دغه راز ایټالوي چارواکو ویلي چې د سمندري ځواکونو چورلکې ډوبه شوې ربړي کښتۍ موندلې ده او د پېښې په ځای کې یې د ژغورنې لپاره ځانګړي واسکټونه غورځولي، خو یوازې درې تنه ژغورل شوي دي. د افغانانو په ګډون، هر کال زرګونه کسان هڅه کوي چې له مرګونو لارو په تېرېدو اروپایي هېوادونو ته ځانونه ورسوي. هر کال د مدیترانې پر سمندري لاره چې تر ډېره یې افریقایي کډوال کاروي، د کډوالو د مرګ ژوبلې خونړۍ پېښې رامنځته کېږي.


د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې د معلوماتو له مخې، تېر کال په دغه سمندر کې ۲۳۰۰ کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارټز
ژباړن: میراحمد یاد


### درېیم څپرکی
### پر ځان باور وکړئ
### او وېره ووژنئ




زه چې ورمخکې شوم نو ځان سره مې وویل: سړی مخکینی کس په غوسه کړی او اوس به یې له ماسره هم خبرې چندان ښې نه وي، خو هغه راته داسې ښایسته ښه راغلاست وویل چې تر دې مخکې مې هېڅ نه وو اورېدلي. لګیا و په عادي ډول یې زما د خونې نیولو پروسه مخ ته وړله، ما ورته وویل: (شېبه مخکې چې دې کوم چلند وکړ رښتیا هم د ستاینې وړ دی، تاسې پر خپل ځان او اعصابو ښه کنټرول لرئ.)
هغه راته وویل: ( زه له داسې خلکو سره له کنټروله نشم وتی او تاسې ولید چې هغه هم زما له امله غوسه نه و، زه یې هسې بهانه شوم، دی بېچاره به یا ښځې ته غوسه و، یا به یې کاروبار ښه نه و، یا به یې د کمي و حقارت احساس کاوه، نو دا موضوع ورته د غوسې د اظهار ښه فرصت و. ظاهراً باید ما هغه ته د عقدې سړولو یو فرصت ورکړی وی.... زه فکر کوم چې له زړه به ښه سړی و، ډېر خلک ظاهراً همداسې وي.)
زه د لېفټ خواته روان شوم، پام مې شو چې له ځان سره لګیا یم: (زه فکر کوم چې له زړه به ښه سړی و، ډېر خلک ظاهراً همداسې وي.)
دا ځل چې درسره چا جنګ کاوه دا دوه جملې دریادې کړئ، توره پسې مه راباسئ، په داسې حالاتو کې پربېږدئ، چې مقابل لوری خپل برید وکړي او تاسې یې هېڅ کیسه کې مه اوسئ.
څو کاله مخکې مې د خپلو شاګرانو د ازموینې پارچې کتلې، یو کار سخت غوسه کړم. د یوه شاګرد پارچه مخې ته راغله، دا شاګرد تېر سمستر په ټولګي کې دومره فعال او تکړه و چې وړتیا یې د پارچې له نومرو ډېره لوړه وه، ما فکر کاوه چې دا ځل به اول نومره شي، خو په پارچه کې یې تر ټولو ټیټې نومرې وړې وې. ما خپلې سکرترې ته وویل چې دا هلک را وغواړه او ورته ووایه چې استاد درسره مهمه خبره لري.
پال سمدستي راغی، مخ یې ځوړند کړی و، ځنګه چې کېناست ورته ومې ویل: (ولې؟ ما خو درنه د داسې پارچې تمه نه لرله.)
پال سر ټیټ کړی و، خپلو پښو ته یې کتل، ویې ویل: (استاده تا چې په نقل ګېر کړم، فکر مې ګډوډ شو، بیا مې تمرکز نشو کولای، دا مې اول ځل و چې پوهنتون کې مې نقل کاوه، ځکه ما ویل لومړۍ درجه باید وګټم، په همدې خاطر نقل ته مجبور شوم.)
هغه دومره نارامه و چې خبرې یې پیل کړې، بېرته نشو غلی کېدای... لګیا و: (زه فکر کوم تاسې به مجبور یئ چې زما د نقل راپور ورکړئ، د پوهنتون د اصولو له مخې که هر محصل په ازموینه کې هر ډول نقل وکړي، له پوهنتونه به شړل کېږي.)
بیا دا ورباد شول چې نقل به یې د کورنۍ نوم بد کړي، ژوند به یې خراب کړي او غبرګون به یې ډېر بد وي، ما ورته وویل: (بس دی! دومره مه تېزېږه، زه درته خبره کوم، زه بیخي خبر نه یم چې تا نقل کړی دی که نه، تا چې راته نه وی ویلي، زه خبر هم نه وم، خو اوس چې تا خبر کړم، نو په دې کار د ډېر زیات خپه شوم.)
بیا مې ترې پوښتنه وکړه: (اوس ووایه چې د پوهنتون له تجربو دې څه تمه لرې؟)
هغه لږ غلی شو، یوه شېبه یې فکر وکړ، بیا یې وویل: (ډاکتر صیب، فکر کوم عمومي موخه به مې دا وي چې ژوند زده کړم، خو اوس لکه چې ښه په لانجې اوښتی یم.)
ما ورته وویل: (موږ په بېلابېلو بڼو تجربې کوو، زه فکر کوم ته د له دې تجربې هم د بریا درس اخیستی شې.
ستا نقل ستا د وجدان د نارامۍ لامل شو او د ګناه احساس دې د دې لامل شو چې پر ځان باور وبایلې او لکه ځنګه چې تا وویل دې خبرې ته خپه کړې او ځان درته سپک ښکاري.
ګوره! زیاتره وخت د ښو او بدو قضیه د دین یا اخلاقو له مخې تلل کېږي. زه تاته نصیحت نه کوم او نه درته ښه او بد درپېژنم. راځه چې د دې موضوع عملي اړخونو ته ځیر شو. که ته داسې کار کوې چې وجدان دې پرې راضي نه وي، نو ګناه کوې او ګناه ستاسې پر فکري جریان فشار راوړي، بیا ته سم فکر هم نه شې کولای، ځکه ذهن دې تل درته وایي: (هسې نه چې راباندې پوه شي.)
خبره مې وغځوله: یوازې لومړۍ درجې دومره ټیټ کړې او هغه کار یې درباندې وکړ چې خپله درته ګناه ښکاري. په ژوند کې داسې ډېرې پېښې راځي، ته د لومړۍ درجې غوندې له ډېرو داسې شیانو سره مخ کېږې چې په ځان نه پوهېږې او د خپل وجدان ضد کارونه کوې، مثلاً ځینې وخت به دې یو جنس دومره تنګ کړي چې زړه به دې وایي راځه په یوه پېرودونکي یې تېر کړه، ته به داسې وهم کړې، خو د هغه کار پایله به داسې وي لکه اوس. د ګناه احساس به کوې، بیا چې هغه پېرودونکی ګورې، هغه کار به دې تر سترګو سترګو کېږي او ته به ورسره نارامه کېږې. زړه کې به وایې: (هسې نه پوه شوی وي چې ټګي مې ورسره کړې ده.) بیا به په خرڅلاو کې هم د پخوا په څېر نفوذ نه لرې، ځکه خپل ځان او حواس به نه شې راټولولای او بلاخره به د وجدان په بیه خرڅلاو درته ډېر سخت تمام شي.
خبره مې وغځوله او د یوه لوی سوداګر کیسه مې ورته وکړه، د دې سوداګر ذهن په دې خراب شوی و چې له بلې مېرمنې سره یې اړیکه درلوده او وېرېده چې هسې نه مخکینۍ ښځه یې له دې اړیکې خبره شي. دې پوښتنې چې: (هغه پوهېږي؟) د سړي پر ځان باور ختماوه، تر دې چې بیا یې په کور او دفتر کې یو کار هم سم نشو کولای. **دوام لري...**

# کانګو

حشمت الله نوري




کانګو د افریقا لویې وچې په لوېدیځه منځنۍ برخه کې د جنوبي اتلانتیک سمندر په څنډه، د ختیځ طول البلدونو د ۱۲ او ۱۸ او د جنوبي عرض البلدونو د ۵ او شمالي عرض البلدونو د ۳ درجو ترمنځ موقعیت لري.
کانګو د ۱۳۱۵۳۸کیلومتره مربع مساحت په درلودو سره د نړۍ څلورشپېتم لوی هېواد دی.
دغه هېواد شمال ته له کامرون، جنوب ته د کانګو له ډیموکراټیک جمهوریت، لوېدیځ ته له ګابون، جنوب لوېدیځ ته له انګولا او جنوبي اتلانتیک سمندر سره ګډه پوله لري.
کانګو په استوایي سیمه کې د ګیني خلیج خواته پروت دی، چې د دغه خلیج د اوبو د تبخیر له امله یې هوا سوزنده- توده او لنده ده.
د دغه هېواد پلازمېنه د برازویل ښار دی او نفوس یې څه باندې ۷۸ میلیون کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۵ کسان ژوند کوي.
دغه هېواد د اداري وېش له مخې په لسو اداري برخو او دوو ولسوالیو وېشل شوی دی.
پوینټ نایري، دولسي کندامبا، نکایي او امپفوندو یې مهم او لوی ښارونه دي.
د کانګو ۵۰ سلنه وګړي تور او لږ سپین کونګو، ۲۲ سلنه سانګا، ۱۲ سلنه مبوچي، ۱۰ سلنه تیکه او پاتې نور یې اروپایي نژاده دي.
د دغه هېواد رسمي ژبه فرانسوي او لیکدود یې لاتیني دی.
د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی، نوی اساسي قانون یې د ۱۹۹۲ ز کال په مارچ کې تصویب شوی دی او اوسنی ولسمشر یې ژورف کابیلا او لومړی وزیر یې برونو تشیب لا دی.
په نورمالو حالاتو کې د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د ۷ کلونو لپاره او د وزیرانو مشر او ټول وزیران د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي او دوه ځلې کار کولای شي.
د کانګو ملي شورا دوې جرګې لري، مشرانو جرګه یې ۷۲ غړي لري چې د خلکو له خوا د ۵ کلونو لپاره او ولسي جرګه یې بیا ۱۳۹ غړي لري چې د خلکو په خوښه د ٦ کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د دغه هېواد حقوقي نظام د فرانسې په مدني قانون او د خلکو په عنعنوي اصولو ولاړ دی، ستره محکمه د دغه هېواد لوی قضایي ارګان بلل کېږي، د عدالت ستره محکمه د کانګو بله مهمه اداره ده چې د ولسمشر د غوښتنې او پوښتنې حق لري.
له دې سربېره دغه هېواد ډېرې مرکزي او سیمه ییزې محکمې لري چې قاضیان یې د قضا د عالي شورا له خوا په کار ګومارل کېږي.
د کانګو کارګر ګوند، د ولسواکۍ او پرمختګ ټولنه، د ولسواکۍ او هر اړخیز پرمختګ لپاره کانګویي غورځنګ او د ډیموکراتیکو قوتونو ټولنه یې مهم او نفور لرونکي ګوندونه دي.
د ۱۹٦۰ ز کال د اګسټ په ۱۵مه یې له فرانسې څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د اګسټ ۱۵مه د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.
کانګو د ۱۹٦۰ ز کال د سپټمبر په ۲۰مه د ملګرو ملتونو د غړیتوب سربېره، د نورو نړیوالو ټولنو غړیتوب هم تر لاسه کړ.
کلیوالي کرنه، لاسي صنایع، د تېلو صنعت، مرستندویه خدمات او دولتي لګښتونه د دغه هېواد مهم اقتصادي فکټورونه دي.
په دې وروستیو کلونو کې تېلو د کانګو په اقتصاد کې د ځنګلونو ځای ونیو چې د دولتي عوایدو او صادراتو غټه برخه جوړه وي. په اتیایمه لسیزه کې د تېلو د بیو چټګ لوړوالي دغه دولت ته موقع په لاس ورکړه، څو د اقتصادي پرمختیا غټې پروژې تمویل کړي چې د دغو پروژو د ګټو له مدرکه یې هر کال د ناخالص کورني تولید کچه ۵ سلنه لوړېده چې یادې کچې یې په افریقایي هېوادونو کې ساری نه درلود.
وروسته بیا په نړیوالو بازارونو کې د تېلو د بیو کمښت د کانګو ناخالص کورنی تولید ۵۰ سلنه کم کړ چې دولت یې د عوایدو له کسر سره مخ شو.
د ګاز تولید په دغه هېواد کې ورځ په ورځ ډېرېږي چې کورنۍ اړتیاوې یې پوره کوي او برېښنا ترې جوړېږي. کانګو بډایه کاني زېرمې لري چې له ۲۰۱٦ ز کال راپدېخوا یې د اوسپنې د ډېرو ایستل هم پیل کړي دي چې له درکه به یې هر کال دولتي عواید یو بلیون ډالرو ته ورسېږي. دغه هېواد په دې وروستیو کې د ای ام اف نړیوال بانک او نورو مرستندویه ټولنو په مرسته د اقتصادي اصلاحاتو ستر پروګرام پیل کړی او ولسمشر یې هم ژمنه کړې چې اقتصادي اصلاحاتو به چټک کړي او د نړیوالو ټولنو په مرسته به د اقتصاد ډېره برخه خصوصي سکټور ته ورکړي.
د تېرې پېړۍ د وروستۍ لسیزې کورنیو جګړو د کانګو اقتصاد ته درانه زیانونه رسولي چې له همدې امله دغه هېواد له ۱۹۹۸ ز کال څخه راپدېخوا د بودجې کسر لري چې پوره کول یې ډېر وخت، امکاناتو، ظرفیت او ادارې ته اړتیا لري. خو داسې اراده شته چې ورځ په ورځ به د کانګو په اقتصادي سکټورونو کې مثبت بدلون راشي او شته اقتصادي ستونزو ته به د پای ټکی کېږدي اوپه یو پیاوړي او باثباته هېواد به بدل شي.
د تېلو، ګازو او نورو کاني موادو ایستل او د ځینو چاڼ او لېږد، لرګي او لرګین شیان، خوراکي توکي، صابون، اوبلن ګاز، برېښنا، سمنټ او نور ساختماني مواد یې مهم صنعتي فکټورونه دي.
د دغه هېواد ۵ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۳۰ سلنه یې څړځایونو او پاتې نوره یې ځنګلونو، غرونو، سیندونو، ښارونو او د کار او استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۳۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات یې هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي. لرګي، قهوه، تنباکو، کچالو، وریجې، خرما، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د کانګو د کرنې او ځارویو مهم محصولات بلل کېږي.
تېل، ګاز، سره زر، سپین زر، الماس، پوتاشیم، د اوسپنې ډبرې، جست، یورانیم او سرپ یې مهم کانونه دي.
چین، امریکا، فرانسه، ایټالیا، هالنډ، اسپانیا، بلجیم او هند د کانګو غټ تجارتي شریکان دي.
کانګو ۴۰ هوایي ډګرونه لري چې ۱۴ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کود یې ۰۰۲۴۲ او د انټرنېټ کود یې بیا سي ډي دی چې ۳۰۰ سوه زره کسان ورته لاسرسی لري.
دغه هېواد دوه دولتي ټلوېزیونونه او ۴ راډیوګانې لري. خصوصي سکټور یې بیا ۸ ټلوېزیونونه او ۳۰ راډیوګانې لري چې په فرانسوي او نورو سیمه ییزو ژبو خپرونې کوي.
کانګو د افریقا او نړۍ له وروسته پاتې، خو پرمختلونکو هېوادونو څخه دی. له ۱۵ کلونو څخه پورته یې ۹۲ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي. زده کړه په دغه هېواد کې له ٦ تر ۱۵ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده او دولت او خصوصي سکټور یې دواړه په دې برخه کې کار کوي چې ډېرو ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ځوانانو ته یې د زده کړې ښه شرایط برابر کړي دي.
په تېرو وختونو کې اوسني کانګو په لوېدیځه افریقا کې د کانګو زایراو انګولا څخه جوړ شوی و، هغه وخت پیکمه او بوشمن قومونه په دې سیمه کې مېشت وو، مانیکنګو هغه قوم و چې ډېره موده یې په دې ټولنه واکمني کړې ده، په ۱۴۸۲ ز کال کې پرتګالي پاچا نزینکا نوو د خپلې واکمنۍ د ساتلو لپاره له پرتګال څخه مرسته وغوښته او د لومړي جان په نامه مسیحي او له پرتګال سره یو ځای شو. پرتګال ډېر اروپایان او ډېر مسیحي مبلغین دغه هېواد ته واستول، پرتګال درې سوه کاله په دې خاوره کې د نورو مربیانو د ټولولو او خرڅولو اډې درلودې او نورو اروپایي سوداګرو په تېره بیا ترتانویانو او فرانسویانو ته یې اجازه ورکړې وه چې دغه ځای ته تګ راتګ وکړي.
په ۱۷مه پېړۍ کې فرانسویانو په دغه سیمه کې د عاج او مربیانو سوداګري پیل کړه، په دغو کلونو کې د مربیانو سوداګري کمرنګه شوه او ځای یې عاج کافي او یو ډول نباتي غوړیو ونیو. د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کلونو کې فرانسې د دغه شتمن هېواد د نیولو اراده وکړه، په ۱۸۸۰ ز کال کې فرانسوي ساوورنیان دوبراز له یوه کانګویي مشر ماکومک سره یو تړون لاسلیک کړ چې د هغې له مخې فرانسوي پوځونو د کانګو د سیند ټولې شمالي سیمې ونیوې.
په ۱۸۸۵ ز کال کې د برلین کنګره چې د المان د لومړي وزیر له خوا د برېټانیا، فرانسې، المان او بلژیک د هېوادونو په ګډون جوړه شوې وه، دغه شتمنه سیمه ووېشله. په ۱۹۱۰ ز کال کې کانګو د فرانسې د لوېدیځې افریقا په مستعمره ګابون مرکزي افریقا او چاد کې ورګډ شو.
د فرانسې د استعمار بېګار او درندو کارونو له امله د کانګو ۷۰ خلک د تېرې پېړۍ په دویمه لسیزه کې له منځه تللي دي.
د دویمې نړیوالې جګړې په پای او په افریقا، اسیا او نوره نړۍ کې د خپلواکۍ غوښتنې څپو د نورو افریقایي هېوادونو په شان په کانګو کې هم د خپلواکۍ غوښتنې احساسات پیاوړي کړل او خلکو وسلې ته لاس کړ. د نویو سیاسي ګوندونو او کارګري ټولنو جوړېدو او د سوسیالیستي افکارو خپرېدو له خپلواکۍ غوښتونکو سره مرسته کوله، څو مبارزه جاري وساتي. په ۱۹۵٦ ز کال کې فرانسې کانګو ته کورواکي ورکړه، په ۱۹۵۸ ز کال کې په دغه هېواد کې د فرانسوي ټولنې په چوکاټ کې کورواکه جمهوریت اعلان شو. د ۱۹٦۰ ز کال د اګسټ په ۱۵مه کانګو پوره خپلواکي تر لاسه کړه او فولبر یولو د افریقایانو له ګټو څخه د دفاع د ولسواک اتحاد مشر، د نوي هېواد د ولسمشر په توګه وټاکل شو. په همدغه کال کې کانګو د ملګرو ملتونو د ټولنې غړیتوب هم تر لاسه کړ.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د کانګو نوم نشته، ځکه خو د دواړو هېوادونو ترمنځ هېڅ راز اړیکې نشته.
له افغانستان څخه تر کانګو پورې د هوا له لارې فاصله ٦۴۴۸ کیلومترو ته رسېږي او همدا راز د کابل او برازاویل ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۳:۳۰ ساعته دی.

همیانۍ

# د سیل او چکر لپاره په هند کې دغه ځایونه خورا مشهور دي

حمیدالله حمیدي

تازه معلومات دا دي چې هند د نړۍ دریم هغه هېواد شو، چې د سیلانیانو د ورتگ له درکه یې ډېرې پیسې گټلې دي. په دغه لړ کې امریکا لومړی او چین دویم ځای خپل کړی دی. هند د نړۍ اووم لوی هېواد دی چې اسمان څک غرونه یې له همالیا نیولې تر کرالا ځنگلونو او مقدس گنگ پورې رسېږي. دغه هېواد له یو میلیارد زیات نفوس او دوه زره قبیلې لري چې لږ تر لږ ه په ۲۰۰ بېلابېلو ژبو خبرې کوي. هند طبیعي ښکلې سیمې، تاریخي ځایونه او اثار او ډېر نور داسې ځایونه لري چې د نړۍ هر ډول سیلانیان ور جلبولای شي. څه مو چې په دې لیکنه کې راغونډ کړي، د دغه هېواد د سیل او چکر له سیمو څخه هغه د چا خبره لکه له سینده یو څاڅکی دی.

**۱- تاج محل (Taj Mahal)**

تاج محل په اگره کې، مرمرینه لویه ماڼۍ ده چې د ۱۶۳۲ او ۱۶۵۳ ز کلونو تر منځ د مغول بادشاه شاه جهان له خوا د خپلې گرانې مېرمنې ممتازمحل سره د بې کچې مینې په ویاړ جوړه او ودانه شوې ده. د تاج محل ودانۍ په ودانولو کې شل زره کارگران او مزدوران په سترې او سخت کار بوخت وو. د دې تاریخي ودانۍ د جوړولو په خاطر د نړۍ له گوټ گوټ څخه تکړه او نومیالي معماران، ډبره تورونکي، انجنیران، حکاکان او مجسمه تورونکي ور وبلل شول. د تاج محل ودانۍ په ښایسته او موزون ډول سره د سینگار او پسول په موخه له یمن څخه عقیق، له عربستان څخه مرجان، له فارس څخه یاقوت او له افغانستان څخه د بدخشان لعل ور وغوښتل شول او په جوړېدو کې یې وکارول شول. ترڅو چې دغه بې ساری او تلپاتې د مینې شاهکار له کابو(۲۲) کلونو پرله پسې کار وروسته د تکمیل پوړۍ ته ورسېد. د تاج محل ودانۍ د نړۍ په عجایبو کې راځي او هر کال د نړۍ له گوټ گوټ څخه په زرگونو گرځندویان اوسیلانیان د دغه شاندار او پرتمین شاهکار لیدو ته ورځي. تاج محل د هند د گرځندوی صنعت په برخه کې د عایداتو یوه غوره او بډایه سرچینه ده.

**۲- د الورا غارونه**

د غار هنر په الورا غارونو کې خپل اوج ته رسېدلی دی. دغه غارونه د نړۍ د لویو معبدي غارونو په ډله کې راځي چې د کلیو، غرونو او ډېرو په منځ کې جوړ شوي دي. الورا ټول ۱۰۰ غارونه لري، خو خلک یوازې د ۳۴ غارونو د لیدو اجازه لري. ویل کېږي چې دغه غارونه په هندي خدایانو او بودایانو پورې اړوندېږي او د اوومې او نهمې پېړۍ په اوږدو کې جوړ شوي دي.

**۳- جیسلمیر**

جیسلمیر(Jaisalmer) د راجستان په لوېدیځ کې له پاکستان سره پولې ته څېرمه یو بیاباني ښار دی. د دغه ښار له یوې غونډۍ څخه تاو شوي ژېړ دېوال ټولې سیمې ته طلایي رنگ ورکړی دی. ډېری کسان دغه ښار د طلایي ښار په نامه هم پېژني. دغه ښار په هند کې د سیلانیانو د تگ راتگ اوسیل لپاره مشهور ښار دی چې په کلني ډول په لویه کچه عواید ترې د حکومت بودجې ته لېږدول کېږي.

**۴- دریاچه ماڼۍ(Lake Palace)**

دریاچه ماڼۍ د دغه هېواد په اودایپور ښار کې موقعیت لري. دغه ماڼۍ په اتلسمه پېړۍ کې د اوړي د سلطنتي ماڼۍ په نامه جوړه شوې ده، خو نن سبا له دې ماڼۍ څخه د یوه پنځه ستوریز هوټل په توگه کار اخیستل کېږي. د لیک پلېس هوټل خپلې ځانگړې کښتۍ لري چې مېلمانه هوټل او برعکس له هوټله پورې غاړې ته لېږدوي. دغه ماڼۍ په ۱۹۸۳ ز کال کې هغه وخت ډېره مشهوره شوه چې د جېمز بانډ د فلمونو ځینې لړۍ پکې شوټ شوې او یاده ودانۍ پکې د یوه شتمن کس د کور په توگه انځور شوې وه. هند د سیل او چکر لپاره دومره زیات ځانگړې ځایونه او سیمې لري چې بیانول یې په یوه لیکنه کې څه، ان په یوه لوی کتاب کې هم نه شي خلاصه کېدلی.

**۵- د قطب منار**

د قطب منار (Qutb Minar) په نړۍ کې دویم لوړ له خښتو جوړ شو ی منار دی. دغه منار چې ۸۰ متره لوړوالی لري له مرمر ډبرو او سرو خښتو چې د ډبرې شکل لري، جوړ شوی او د قران کریم ایاتونه پرې حکاکي شوي دي. د دغه منار د جوړولو چارې په ۱۱۹۳ ز کال کې پیل شوې دي او جوړېدو یې ۴ کاله وخت نیولی دی. د منار په منځ کې د پورته ختلو لپاره ۳۷۹ زینو ته ورته ځایونه شته چې دروازه یې د سیلانیانو پر مخ تړلې ده او څوک ورته د ورتلو اجازه نه لري. په زړه پورې خو دا ده چې هندي چارواکي سیلانیانو ته ځینې سپارښتنې او مشورې هم ورکوي، څو له ستونزو سره مخ نه شي. په هند کې د کلتور او سیاحت فدرالي وزیر وایي، هغه ښځې چې له بهر نه هند ته راځي، د خپل خوندیتوب لپاره باید د لنډو کالیو یا سکرټ ( لنډکي ښځینه کمېسونو) له اغوستلو ډډه وکړي. دغه وزارت وایي، مېرمنې باید د شپې له خوا بهر ته یوازې و نه وځي. د وزارت په لایحه کې دا هم راغلي، هغه مېرمنې چې هند ته راځي، نورې مشورې هم ورکول کېږي.

کله چې سیلانۍ مېرمنې د هند هوایي ډگرونو ته رسېږي، هغه معلوماتي کتابگوټی ورکول کېږي چې پکې دوی ته ویل شوي چې څه باید وکړي او څه ونه کړي.

په دغه کتاب کې ویل شوي چې که کوچنیو ښارونو ته ځئ، یوازې مه گرځئ او ، سکرټ ، مه اغوندئ. د هغې ټکسي تصویر اخلئ چې سفر پکې کوئ او دغه تصویر خپلو دوستانو ته استوئ. د هند په اگره ښار کې د تاج محل لیدو ته هر کال ډېر سیلانیان ورځي، د دغه وزارت وزیر وایي، هند یو بډای کلتور لري، موږ معبدونو ته د تگ پر مهال ځانگړې کالي اغوندو، مهرباني وکړئ او د کالیو اغوستو پر مهال دغه دود ته پام کوئ. اگره د تاج محل او فتح پور سکري تاریخي اثارو له کبله هغه ځایونه دي چې تل پکې د سیلانیانو گڼه گوڼه وي. د دغه وزارت په وینا، نه غواړي خلکو ته ووایي چې څه ډول کالي واغوندي او کوم ډول وا نه غوندي، خو په خبره یې «سیلانیان باید د ځان خوندیتوب په موخه احتیاط وکړي».

# د ټاکنو کمېسیون: ډېر ژر به د ولسي جرگې د پاتې ولایتونو د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان کړو

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسي جرگې لپاره د نهو ولایتونو وروستۍ پایلې اعلان کړې.

دغه کمېسیون ویلي چې د شکایتونو کمېسیون د ولسي جرگې د نهو ولایتونو د ټاکنو په وروستیو پایلو کې بدلون راوستی دی.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون رییس گلاجان عبدالبدیع صیاد تېره ورځ په یوه غونډه کې ویلي چې د دغو ولایتونو په وروستیو پایلو کې یوازې یوه ښځه لرې شوه او پرځای یې بله ښځه راغلې ده. نوموړي ویلي: «دغه ولایتونه عبارت دي له: سمنگان، بامیان، دایکنډي، لغمان، زابل، اروزگان، جوزجان او پروان څخه چې الحمدالله په وروستیو پایلو کې یې هېڅ جدي بدلون نه دی راغلی، په لږ څه بدلون پایلې تایید شوې، یوازې د اروزگان په پایلو کې یو ښځه لرې شوې».

صیاد زیاته کړې چې ډېر ژر به د څو نورو ولایتونو د ولسي جرگې د رایو وروستۍ پایلې هم اعلان کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له دې وړاندې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ازادي راډیو ته ویلي وو چې د ثبت شویو شکایتونو مستندوالي ته په کتو، ممکن د ټولو ولایتونو په وروستیو پایلو کې د پام وړ بدلون راشي.

په ورته وخت کې د ټاکنو د څار بنسټونه د دغو ولایتونو د وروستیو پایلو له اعلانه هرکلی کوي.

د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید ویلي چې په وروستیو پایلو کې ځکه کم بدلون راغلی، چې یا خو د لومړي لېست له اعلان وروسته کم شکایتونه ثبت شوي او یا هم په دغو ولایتونو کې ټاکنیز کړکېچ کم و. نوموړي زیاته کړې: «دغه پایلې چې ژر اعلان شوې او کم بدلون پکې راغلی، هغه ولایتونه دي چې انتخاباتي ستونزې پکې کمې وې او هم شکایتونه کم ثبت شوي وو. وبه لیدل شي چې انتخاباتي کمېسیونونه په هغو ولایتونو کې چې د کړکېچ کچه پکې لوړه وه، څه ډول چلند کوي.»

دا په داسې حال کې ده چې د کوچیانو د حوزې په گډون، د ولسي جرگې ځینو نوماندانو وړمه ورځ په کابل کې لاریون وکړ او د ټاکنو پر کمېسیون یې نیوکه وکړه چې د ټاکنو په پایلو کې یې درغلي کړې او دوی ته یې اوسنۍ پرېکړه د منلو نه ده. دوی د شکایتونو د کمېسیون د هغې پرېکړې پر عملي کېدو ټینگار وکړ چې له مخې یې باید د کابل د ټولو حوزو ټاکنې باطلې اعلان شي.

# پکتیکاوال: په ډېری ولسوالیو کې دولتي اداري غیر فعالې دي چې له ستونزو سره یې مخ کړي یو




د پکتیکا ولایت اوسېدونکي وایي، په ځینو ولسوالیو کې ډېری دولتي اداري غیر فعالې دي او دوی د خپلو ستونزو د حل لپاره مرکز ښرنې ته ځي چې له ډېرو ستونزو سره مخ وي.

د دغه ولایت د نکې ولسوالۍ اوسېدونکي محمد اسلم پژواک ته ویلي چې په دې ولسوالۍ کې یوه دولتي اداره هم نشته او دوی د خپلو ستونزو د حل په موخه، مرکز ښرنې ته ځي.

هغه ویلي: «که زموږ یوه تذکره هم پکار شي، نو مجبور یو ښرنې ته ولاړ شو. د لارې کرایه راباندې راځي، هلته په هوټل کې دوې- درې شپې پاتې کېږو چې دا هر څه زموږ لپاره ډېر تاوان او لوی مشکل دی، باید حل شي.»

دغه راز د گومل ولسوالۍ اوسېدونکي موسی خان هم ویلي چې په دې ولسوالۍ کې د عدلي او قضایي ارگانونو ترڅنگ، نورې ډېرې دولتي اداري هم نشته .

نوموړي زیاته کړې: «هره ورځ د خلکو ضرورت کېږي چې عدلي او قضایي ارگانونو ته مراجعه وکړي، خو نشته دي، د حج اوقافو ریاست نشته، د تذکرو اداره نشته، د هر شي لپاره باید ښرنې ته ولاړ شو».

د خلکو د معلوماتو پر بنسټ، د پکتیکا خوشامند، نکه، اومنه، گیان، زېړوک، گومل، برمل، وړممۍ، وازېخوا او تروې هغه ولسوالۍ دي چې ډېری دولتي اداري پکې فعالیت نه لري.

د دغه ولایت مدني فعال جمیل غیرت ویلي چې په خوشامند، نکه، اومنه او گیان ولسوالیو کې یوازې امنیتي ځواکونه دي، نورې اړوندې اداري پکې نشته.

د نوموړي په خبره، په زېړوک، گومل، برمل، وازېخوا او تروې ولسوالیو کې د عدلي او قضایي ارگانونو ترڅنگ، ډېرې نورې اداري هم فعالیت نه کوي.

د پکتیکا د ولایتي شورا غړي عبدالمبین پژواک ته ویلي، د دغه ولایت تر لسو په ډېرو ولسوالیو کې دولتي اداري نشته.

نوموړي زیاته کړې: «موږ غوښتنه کوو چې اول دې په دغو ولسوالیو کې امنیت ټینگ کړي او بیا دې پکې دولتي اداري فعالې کړي».

د یادونې ده چې د پکتیکا د اومنې، زېړوک، گیان، تروې او وازېخوا ولسوالیو ډېر دولتي مسوولین په مرکز ښرنه کې د یادو ولسوالیو اوسېدونکو ته خدمات وړاندې کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې لومړی | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۱مه | دویم کال | ۳۲۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۹ | ۱۱ | ۸ | ۱٦ |
| -۱۲ | -٤ | -۳ | -۲ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:٤۵ | لمر ختل ۰۷:۱۱ | ماسپښین ۱۲:۲۲ | مازیگر ۰۳:٥٤ | ماښام ۰٥:۳۲ | ماخوستن ۰٦:٥۸

## نړۍ



ملګري ملتونه: اروپا ته تلونکي ۱۷۰ کډوال په مدیترانې سمندرګي کې ډوب شوي دي

۳

## در حمله بر کاروان موترهای والی لوگر ۲۰ تن کشته و زخمی شده اند



بر کاروان موترهای والی لوگر حملهٔ موتربم صورت گرفته، که در اثر آن هشت سرباز امنیتی کشته شده و ۱۰ تن دیگر زخم برداشته اند.

حوالی ساعت ۱۰:۳۰ قبل از چاشت دیروز، در منطقهٔ سفید سنگ ولسوالی محمدآغه لوگر، بر کاروان موترهای والی لوگر حمله موتربم صورت گرفت.

شمشاد لاروی سخنگوی والی لوگر، به پژواک گفته است که در این رویداد، هشت سرباز امنیتی کشته شده و ۱۰ تن دیگر زخم برداشته اند.

وی گفته است که در جمع این افراد، سربازان ریاست امنیت ملی و محافظین والی شامل اند. شاپور احمدزی سخنگوی قوماندانی امنیهٔ لوگر، گفته است که در این رویداد، ۱۵ سرباز امنیتی کشته و زخمی شده اند. وی افزود که در این رویداد، به والی کدام آسیب نرسیده است.

اما عبدالولی وکیل معاون شورای ولایتی لوگر، گفته است که در این رویداد، ۲۰ سرباز امنیتی کشته و مجروح شده اند.

وی افزود: «والی و رئیس امنیت ولایت لوگر، از کابل به سوی لوگر در حرکت بودند، سربازان امنیت ملی و محافظین والی در سفیدسنگ منتظر آنها بودند؛ وقتیکه والی و رئیس امنیت به این منطقه رسیدند و به موترهای خود بالا میشدند، در این لحظه حمله موتربم صورت گرفت».

بر اساس معلومات وکیل، در این رویداد به شمول رینجر، شش موتر تخریب شده است. مسؤلیت این رویداد را طالبان مسلح به عهده گرفته اند.

ذبیح الله مجاهد سخنگوی گروه طالبان مسلح می‌گوید که در این رویداد، به سربازان تلفات زیاد وارد شده است.

قابل یادآوری است که حدود ۱۰ ماه پیش، طالبان مسلح در منطقهٔ واغان ولسوالی محمدآغه، بر کاروان موترهای معاون والی لوگر حمله کرده بودند، که در اثر آن به شمول قمرالدین شکیب معاون والی و سلیم صالح سخنگوی والی، پنج تن کشته شده و دو تن دیگر زخم برداشته بودند.

# دوامداره ګډون!  مشارکت دوامدار!




د افغانستان په اړه د جنیوا په وروستي کنفرانس کې نړیوالې ټولنې یو ځلې بیا له افغانانو او د افغانستان له دولت سره د سولې د ټینګښت او سوکالۍ په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه. دغه راز افغان دولت په دغه کنفرانس کې د پرمختګونو او اصلاحاتو د راوستلو په اړه خپله ژمنه تازه کړه.

د جنیوا کنفرانس د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ملګرتیا د دوام یو ښه فرصت و. همدا شان نړیوالې ټولنې تر ۱۳۹۹ کال پورې د افغانستان د پرمختګ لپاره د ۱۵،۲ میلیارد ډالرو مرسته تایید کړه.







کنفرانس اخیر جنیوا در مورد افغانستان، همکاری جامعه جهانی با مردم و دولت افغانستان برای آوردن صلح و رفاه را نشان داد. در این کنفرانس دولت افغانستان نیز تعهداتش را برای آوردن اصلاحات و پیشرفت تجدید کرد.

کنفرانس جنیوا یک فرصت خوب برای دولت افغانستان و جامعه جهانی برای ادامه همکاری بود. همچنان جامعه جهانی تصمیم خود برای کمک ۱۵،۲ میلیارد دالری برای توسعه افغانستان تا سال ۱۳۹۹ را دوباره تایید کرد.